# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۷ د کب پنځمه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲٤مه | دویم کال| ۳۳۹مه ګڼه


تازه سروې:

## لوړه سلنه افغانان تر ټاکنو مخکې د سولې غوښتونکي دي




۳ مخ

ولسمشر ولې د موقت حکومت د اصلي طراح نوم نه اخلي؟

۲ مخ

د ډیورنډ کرښې د هوکړه لیک په اړه لنډ حقوقي او تاریخي بحث

۲ مخ

علائم دیابت در زنان؛ خطرات و راه‌های درمان آن

۳ مخ

## ګډو ځواکونو په میدان وردګو کې یوځل بیا ملکیان وژلي دي

د ملکي وګړو د خوندیتوب په تړاو د افغان حکومت له ټینګار سره سره لاهم د افغان او بهرنیو ځواکونو په عملیاتو کې ملکي وګړي وژل کېږي.
افغان او بهرنیو ځواکونو د وردګو ولایت په دایمیرداد ولسوالۍ کې په څو کلیو چاپه وهلې او د یوې دیني مدرسې ترڅنګ یې د ملکي وګړو کورونه په نښه کړي دي.
د وردګو ولایتي شورا ویلي، په دې پېښه کې د یوې کورنۍ نهه غړي وژل شوي او ډېر نور ټپیان دي.
د وردګو د ولایتي شورا رییس اخترمحمد طاهري ویلي: «د ملي امنیت د صفر یک قطعې له خوا د وردګو ولایت د جلګې په څلورو کلیو کې عملیات شوي. د شلتوغي په کلي کې د جګړن انیس په نوم د یوه سړي په ګډون د هغه د کورنۍ اووه تنه وژل شوي، چې په وژل شوو کې د نوموړي ښځه او ماشومان هم شامل دي».
ولایتي شورا ویلي، په سیمه کې طالبانو فعالیت نه درلود، خو ګډو ځواکونو په ملکي سیمو عملیات ترسره کړي او دغه مرګ ژوبله یې اړولې ده.
د میدان وردګو ولایتي شورا دغه راز ویلي چې دغه عملیات د ولایتي اداري له همغږۍ پرته ترسره شوي او دوی یې په تړاو هېڅ معلومات نه لري. د کورنیو چارو وزارت بیا ویلي چې دغه عملیات د ملي دفاع وزارت له لوري شوي، خو دفاع وزارت د دې پېښې په تړاو له څه ویلو ډډه کړې ده.

## طالبان له افغان حکومت سره د خبرو له لارې خپلو غوښتنو ته رسېدای شي



۲ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه

میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره لوی کتابتون لري، چې کولی شي وخت ناوخته پکې مطالعه او څېړنه وکړي او خپلې ستونزې حل کړي.




## کندهار کې د علامه حبیبي واټ د پخولو چارې پیل شوې



په کندهار کې د ماسټر پلان د پلي کېدو په لړ کې، پرون د علامه حبیبي واټ له پراخولو وروسته، د دغه سړک د پخولو چارې پیل شوې.
د دغه ولایت سرپرست عبدالحنان منیب پژواک ته ویلي، دغه واټ مخکې ۱۸ متره سور درلود، چې د ښاروالۍ له خوا د ملکیتونو تر استملاک وروسته، د ۴۰ مترو په اندازه پراخ شو چې اوس یې د پخولو چارې عملاً پیل شوې دي.
منیب زیاته کړې، د دغه واټ پر جوړولو ۲۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې کندهار ښاروالي یې ورکوي او د لسو میاشتو په موده کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
د یادونې ده چې څو میاشتې وړاندې، کندهار ښاروالۍ په ورته توګه د احمد شاهي جادې د پراخوالي او جوړولو چارې د ۷۰ میلیونو افغانیو په لګښت تر سره او ګټې اخیستنې ته یې وسپارله.

## وزارت خارجه: از آمادگی چین برای ایجاد گروه تماس بخاطر ختم جنگ افغانستان استقبال می‌کنیم



وزارت خارجه افغانستان از آمادگی چین برای ایجاد گروه تماس سازمان همکاری‌های شانگهای بخاطر پایان جنگ در این کشور استقبال می کند.
صبغت احمدی سخنگوی این وزارت می‌گوید که بدون شک تلاش‌های بیجینگ در این راستا مفید خواهد بود اما وی تأکید دارد که به رهبری حکومت افغانستان در موضوع صلح باید توجه شود.
آقای احمدی روز شنبه با اشاره به روابط بیجینگ و اسلام آباد به رادیو آزادی گفت که نقش چین به حیث یکی از کشورهای بزرگ منطقه در رابطه به صلح افغانستان مهم است.
وی گفت: «چین به حیث یکی از بزرگترین سرمایه گذارها در پاکستان می‌تواند نقش خود را در زمینه آوردن صلح در افغانستان ایفا کند. بدون شک تمام کشورهای منطقه می‌توانند نقش ایفا کنند به شرط این‌که مالکیت و رهبری دولت جمهوری افغانستان را بگونه کامل رعایت بکنند».
وانگ یی وزیر خارجه چین به تازگی در دیدار با وزیر خارجه قرغیزستان در بیجینگ گفته است که برای خاتمه جنگ در افغانستان گروه تماس سازمان همکاری‌های شانگهای را خواهند ساخت. وزیر خارجه چین اظهار داشته که با ایجاد گروه کاری سازمان همکاری‌های شانگهای تلاش می کنند تا یک راه حل سیاسی مناسب برای قضیه افغانستان دریابند.
چین، روسیه، تاجکستان، قزاقستان، قرغیزستان، ازبکستان، هند و پاکستان از اعضای اصلی سازمان همکاری‌های شانگهای می‌باشند.




## دریــځ

### ولسمشر ولې د موقت حکومت د اصلي طراح نوم نه اخلي؟

ولسمشر غني وایي چې د موقت حکومت طرحه له هېواده د باندې جوړه شوې او په افغانستان کې د پلي کېدو وړ نه ده. نوموړي ویلي، هغه کسان چې د موقت حکومت طرحې وړاندې کوي، له خلکو ډارېږي. غني زیاته کړې چې د افغانستان ولسمشر افغانانو ټاکلی دی او د هغه لرې کول د پاکستان، ایران او مسکو کار نه دی، هغه خلک چې د موقت حکومت خبره کوي، طرحه یې بېروني او ناکامه ده. نوموړي دا څرگندونې د ځوانانو یوې غونډې ته کړې دي.

پوښتنه دا ده چې رښتیا هم د موقت حکومت طرحه د پاکستان، روسیې او ایران ده، که بل څوک هم د دې طرحې تر شا دي او ولسمشر ولې د اصلي طراحانو نوم نه اخلي؟

د افغانستان د سیاسي جوړجاړي لپاره د موقت، انتقالي او سرپرست حکومت خبره کېږي. دا خبرې د سیاسي کړیو گرم بحث دی. ویل کېږي چې امریکا او طالبانو هم په دې اړه خبرې کړې دي، خو هوکړه یې کړې چې دا چاره به پټه ساتي، نو ځکه بیا بیا دواړه لوري موقت حکومت ردوي. هغوی چې د موقت یا انتقالي حکومت خبره کوي، دا چاره له سولې سره تړلې گڼي او وایي چې دا چاره به سولې او د سولې د شوي توافق عملي کولو ته لاره پرانیزي. ولسمشر د دې لپاره د موقت حکومت مخالفت کوي، چې په دغه حکومت کې د ده ځای نشته او پر ټاکنو ځکه ټینگار کوي چې فکر کوي ټاکنې گټي او د همدې لپاره یې سر له اوسه د پراخو دولتي امکاناتو کارول پیل کړي دي.

ولسمشر د موقت حکومت مخالفت بیا بیا کوي، خو دا ځل یې دا چاره له مسکو، تهران او اسلام اباد سره تړلې ده. ټول پوهېږي چې د موقت حکومت بحث د سولې له خبرو سره را پیل شوی دی. دا هم روښانه ده چې د سولې خبرې او روانه پروسه امریکا پیل کړې، نو له شک پرته د موقت حکومت د بحث او غوښتنې سرچینه هم امریکایي لوری دی. د امریکا د مشهور بنسټ (رنډ) په طرحه کې په واضحو ټکو د اتلس میاشتني انتقالي حکومت خبره شوې او ټوله طرحه پر همدې چاره را څرخي. مشهور امریکایي افغانستان پېژندونکې (بارنېټ روبین) چې ډېری وخت یې د نظریاتو پر اساس د افغانستان لپاره د امریکا پالیسي جوړېږي، هم د موقت حکومت خبره کوي. دا او دې ته ورته نور داسې شواهد شته چې د موقت، انتقالي او یا سرپرست حکومت طرحه د امریکا ده او د سولې په چاره کې ترې کار اخلي. له شک پرته د افغانستان شریر دښمن پاکستان، ایران او روسیه به هم دا ډول کومه طرحه لري، خو اصلي طرحه د امریکا ده.

ولسمشر د دې پر ځای چې د اصلي طراح نوم واخلي او مخالفت یې وکړي، هڅه کوي چې عامه افکار بل لور ته بوځي. که موقت، انتقالي او یا سرپرست حکومت رښتیا د افغانستان پر زیان وي، نو ولسمشر باید خلکو ته دا زیانونه بیان کړي او بیا په واضحو ټکو د امریکا نوم واخلي او مخالفت یې وکړي. که ولسمشر یوازې د سولې په چاره کې د خنډ پیدا کولو، د خلکو په سترگو کې د خاورو شیندلو، د عامه ذهنیت د خرابولو او د خپل واک د دوام په هڅه کوي، نو خلک پوهېږي او دا هڅه یې ناکامه ده.

# د ډیورنډ کرښې د هوکړه لیک په اړه لنډ حقوقي او تاریخي بحث

لیکوال: سید حبیب هاشمي / لومړۍ برخه:

د نړۍ د نقشې پر مخ د افغانستان د اوسنیو پولو له تثبیت څخه نږدې یوه پېړۍ تېرېږي. د افغانستان د پولو په ټاکنه کې روسانو او انگرېزانو د خپلو استعماري موخو د تحقق په خاطر په کافي اندازه لاس درلود.

د نولسمې میلادي پېړۍ تر پایه انگرېزان له افغانستان سره په دوو جنگونو کې دې نتیجې ته ورسېدل، چې هغوی دا سیمې نورې نشوای کنټرولولی. دوی د امیر دوست محمد خان (بارکزي) لمسي او د افضل خان ۵۰ کلن زوی امیر عبدالرحمن حکومت په رسمي توگه ومنلو چې په ۱۸۸۱ ز کال کې د افغانستان واکمن شو. د امیر لومړۍ کار دا و چې خپل وېشلې ملک یې راټول او په لوېدیځ کې تر هرات او په شمال کې یې تر امو سینده واک ټینگ کړو. د دې لپاره هغه له روس، ترکمنستان او پارس سره د سرحدونو د ټاکلو لوظنامې وکړې.

دی د انگرېز وایسرای لارډ ډفرن په بلنه په ۱۸۸۵ ز کال کې د خبرو لپاره راولپنډۍ ته ولاړ. هغه په خپلو یادښتونو کې لیکي: «انگرېزانو راته یوه لویه توپخانه، ټوپک او نغدې پیسې راکړې او دا لوظ یې وکړو چې که زما اړتیا وه، نو د دې نه زیاته مرسته به راسره وکړي».

د ۱۸۸۸ ز کال راهیسې په هند کې د برېټانیا حکومت له امیر عبدالرحمن خان سره د پولو د ټاکلو لپاره څو سفارتي استازي ور واستول. ښایي د دوی د لیکونو ژبه کلکه او امیر ته د منلو وړ نه وه. هغه څو واري خپله ناروغي پلمه کړه او دغه کار وځنډېدو، خو اخر یې انگرېز ته د پولې د نقشې د ترسیم لپاره اجازه وکړه.

هغوی چې کومه نقشه ور واستوله، پکې د وزیرو ټوله سیمه یې په هند کې شامله کړې وه. د دغه لیک په لیدو امیر یو اوږد لیک وایسرای ته ولیږو چې قبایل باید زما په ملک کې پاتې شي، که دوی مو زما له ملک نه جدا کړل، نو نه یې تاسو ته څه گټه ده او نه ما ته. تاسو به تل ورسره جنگونه کوی او دوی به تل چور او تالان کوي.

انگرېزانو د ده د غوښتنې هېڅ پروا ونه کړه. امیر عبدالرحمن خان چې اسمار ونیو، نو انگرېزان اندېښمن شول. دوی په جنوب کې تر چمن د اورگاډي پټلۍ په جوړولو لاس پورې کړ چې تر هغې د افغانستان خاوره وه او امیر عبدالرحمن خان پرې خواشینی و.

که د ډیورنډ کرښه په ۱۸۹۳ ز کال کې د افغانستان له نورو پولو سره پرتله کړو، نو له دغه تاریخي واقعیت په ډاگه څرگندېږي، چې د کرښې په غځولو کی هېڅ ډول بشري، جغرافیایي او حقوقي ملاحظات په نظر کی نه دي نیول شوي.

په هره اندازه چه د ډیورنډ د هوکړې د لاسلیک له نېټې څخه لرې کېږو، په هماغه اندازه د افغانستان خپلواکې، سیاسي او ډیپلوماټیکه بڼه غښتلې کېږي او ورسره افغاني واکمنان د ډیورنډ د کرښې پر وړاندې د احتجاج او اعتراض پیاوړتیا او سیاسي ظرفیت ترلاسه کوي.

په افغانستان کې د ډیورنډ د هوکړې له مطرح کېدو څخه ۱۲۵ کاله تېرېږي. په دې موده کې ۲۰ حکومتونو په افغانستان کې قدرت ترلاسه کړی دی چې له دې جملې څلورو لومړنیو حکومتونو تر گواښ او فشار لاندې د ډیورنډ کرښه منلې او ۱۶ نورو حکومتونو د هغې پر وړاندې په رسمي یا نارسمي توگه اعتراض او احتجاج ښودلی دی. ان تر دې چې د ډیورنډ قضیه د افغانستان په بهرني سیاست کې ستر ځای موندلی دی.

په ۱۸۹۴ ز کال کې د برېټانیا د سرحدونو هغه کمېشن چې د جنوبي وزیرستان په وانه کې یې خپل کمپ لگولی و، د مسیدو له خوا وسوځول شو، خو دوی درې کاله په دغو غرونو کې گرځېدل.

د نړیوالو حقوقي تعاملاتو خلاف، انگرېزانو د افغانستان خپلواکي، د افغاني لوري له خوا د ډیورنډ کرښې له منلو سره وتړله.

د کابل هوکړه لیک په دویمه ماده کې چې په ۱۹۲۱ ز کال کې د برېټانوي هند او اماني حکومتونو ترمنځ لاسلیک شو، راغلي دي چې د دواړو خواوو (هند او افغانستان) ترمنځ پولې په هغه شان چې د ۱۹۱۹ ز کال د اگسټ په اتمه د راولپنډۍ د هوکړه لیک په پنځمه ماده کې څرگندې شوې وې، منې.

په قبایلي سیمو کې څو پېښې د دې لامل شوې چې په هند کې د انگرېز حکومت له نسکورېدو وروسته او د پاکستان له جوړېدو څخه مخکې د لومړي وزیر شاه محمود خان حکومت د ډیورنډ هوکړه لیک په یو اړخیزه توگه باطل اعلان کړ. دا پېښې په دې ډول وې:

- په پښتونخوا کې د انگرېزانو پر ضد د خان عبدالغفار خان په مشرۍ ازادي غوښتونکې تحرکات
- په (بنو) کې د یوې لویې جرگې جوړېدل، چې پکې د پښتونخوا د یو خپلواک دولت د جوړېدو په اړوند بند و بست وشو
- پر کابل حکومت باندې د قومونو د جرگې د استازو فشار و چې د پخوا په شان کابل ته راتلل

شاه محمود خان د خپل حکومت دریځ په ۱۹۴۷ ز کال کې د جولای په ۳۱مه د برېټانیا د بهرنیو چارو وزیر ته وړاندې کړ. دغه دریځ د حقوقو له موازینو سره کاملاً سمون درلود. په دې معنی چې هر دولت د خپلو گټو د تشخیص او ملاتړ قاضي گڼل کېږي، یو دولت کولای شي په خپل مسوولیت په یو اړخیزه توگه بل لوري ته د یو یادښت په استولو کې هغه تړون ملغي اعلان کړي چې ور څخه تاواني کېږي.

په ۱۹۴۷ ز کال کې د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته، په هغه هوکړه لیک کې چې د پاکستان د ولسمشر محمد علي جناح او د افغانستان استازي نجیب‌الله او برېټانوي استازي (تورواپانا) ترمنځ په کراچۍ کې لاسلیک شو. د ازادو قبایلو سیمه له صوبه سرحد او بلوچستان څخه جلا وپېژندل شوه. د محمد علي جناح له مړینې وروسته، خواجه نظام الدین د پاکستان نوي ولسمشر له مخکینی هوکړې څخه په سرغړونو پیل وکړ.

پرته له افغاني حکومتونو، د اوومې دورې شورا هم د ۱۹۴۹ ز کال په جولای کې د ډیورنډ د کرښې پرضد دریځ ونیو.

په هر حال، وروسته له دغه لنډ تاریخي پس منظره حقوقي بحث ته ننوځو.

اول دا چې افغانستان یو خپلواک هېواد نه و، بلکې تحت الحمایه (colonie) یا د انگرېز مستعمره گڼل کېده. مور د ډیورنډ هوکړه لیک حقوقي باور هغه وخت په گوته کولی شو، چې له یوې خوا د نړیوالو تړونونو د تصویب عمومي پروسیجر اوطرزالعمل ته نظر واچوو او له بلې خوا د نړیوالو تړونونو د اعتبار حقوقي معیارونه له نظره ونه غورځوو، دواړه مور ته د ډیورنډ د هوکړه لیک د حقوقي ارزونې وسیله په لاس راکوي.

لومړی: د یوه بهرني تړون د تصویب او نافذېدو پروسیجر په دې ډول دی: تړون باید د دواړو هېوادونو د ذیصلاحو استازو له خوا لاسلیک شي، دغه صلاحیت د اساسي قانون له خوا متعاقدینو ته ورکول کېږي. نړیوال حقوقپوهان په دې باور دي چې په نړیوال حقوقي نظام کې د اساسي قوانینو ضوابط په کافي اندازه نفوذ لري، ان تر دې چې د یو هېواد د اساسي قانون د حکمونو نه مراعات د تړون د باطلېدو لامل گرځي.

اوس راځو دې ته چې د هوکړه لیک په اړه دغه شرط په څای شوی دی که نه؟

۱ - د ډیورنډ تړون د برېټانوي هند د باندنیو چارو د وزیر (سرمارونتیمور ډیورنډ) او د افغانستان امیر (عبدالرحمن) تر منځ لاسلیک شو.

امیر مطلقه او وابسته پادشاه او او اصلاً له اساسي قانون سره اشنا نه و، بناءً نوموړي د کوم اساسي قانون د حکمونو له مخې د افغانستان د خلکو واقعي استازیتوب په نړیواله سطح او د تړون د لاسلیک کېدو صلاحیت نه درلود.

ب - دغه مطلقیت د افغانستان په دننه کې مطرح و. د هېواد بهرنی سیاست د انگرېزانو له خوا تر کنټرول لاندې و. له همدې کبله د ډیورنډ د هوکړه لیک په پروسیجر کې د امیر حقوقي او سیاسي باور د انگلستان د هند مستعمرې د یو وزیر یعنې ډیورنډ سره په یوه کچه کې واقع و.

۲- نړیوال تړون باید د خلکو د استازو له خوا په پارلمان کی تصویب شي

داسې اسناد په لاس کې نه لرو چه هوکړه لیک د انگلستان د عوام مجلس له خوا تصویب شوی وي، اما په افغانستان کې هغه وخت پارلمان موجود نه و، خو بر خلاف د هوکړه لیک له نېټې مخکې لږ تر لږه د یوې نیمې پېړۍ په موده کې لویه جرگه موجوده وه، خو هېڅ وخت دا سند لویې جرگې ته وړاندې نه شو. د تحت الحمایه افغانستان امیر جرئت ونه کړ چه پر دې موضوع باندې د لویې جرگې د استازو له مخالفت او مقابلې سره مخ شي.

بناءً د ډیورنډ هوکړه لیک د لاسلیک په ترځ کې د یوه عادي منل شوي تړون له دویم پروسیجر څخه هم سرغړونه شوې ده.

۳- تړون باید د هېواد د عالي ترینې مرجع یعنې د دولت د رییس له خوا شکلي شي. دا یوازینی شرط دی چې په ځای شوی و.

۴ - تړون باید په رسمي جریده کې خپور او اعلان شي. دغه تجویز د تړون د انفاذ معنی ورکوي. په هغه وخت کې افغانستان منظم نظام نه درلود، بناءً دغه عملیه تر سره نه شوه. عام ولس د هوکړه لیک د محتویاتو څخه بې خبره پاتې شو. وروسته مورخین په دې برخه کې چه ایا امیر انگلیسي درې متنونه او ورسره مل نقشه ټول لاسلیک کړي دي که نه؟ اتفاق نظر نه لري. ځینې یې داسې نظر لري چې گوندې امیر د هوکړه لیک له درې متنو سره پر مل نقشه باندې لاسلیک نه دی کړی او د هوکړه لیک په متن کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د پلې کلمه هم نه ده ذکر شوې.

بناءً د ډیورنډ د هوکړې په لاسلیک کېدو سره د یو عادي تړون د تصویب د شکلیاتو څلورم شرط هم نه دی پر ځای شوی.

۵ - هوکړه لیک باید په اتفاق سره د دولتي اړخونو له خوا په نړیوالو سازمانونو کې چې وروسته جوړ شول، لکه ملگرو ملتونو د تړونونو په ارشیف کې ثبت شوی وای، چې دغه عملیه هم نه ده تر سره شوې.

٦- د مستعمره هېواد کورنۍ او بهرنۍ اداره مستقیماً د ښکېلاکگر قوت په لاس کې وي

۷- د تحت الحمایه هېواد کورنۍ چارې پخپله دولت اداره کوي، خو بهرنۍ چارې او د بهرنۍ سیاست واک د استعمارگر قوت له خوا اعمال کېږي.

بناءً د ډیورنډ هوکړه لیک د پنځو شکلیاتو او شرطونو څخه چې د یو نړیوال باوري تړون وربانډې بنا دی، یوازې یو فرعي شرط پر ځای کړی او څلور بنسټیز شکلیات یې له نظر څخه غورځولي دي .

د یو نړیوال تړون اعتبار یوازې د حقوقي شکلیاتو له رعایت سره تړلی نه دی. نور شرطونه هم ورسره مل وي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

**دوام لري...**

## داوودزي: طالبان له افغان حکومت سره د خبرو له لارې خپلو غوښتنو ته رسېدای شي

د سولې عالي شورا د دارالانشا مشر محمدعمر داوودزي ویلي، د ملگرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو له نوملړه د طالبانو د ځینو مشرانو د نومونو ایستلو غوښتنه، باید د افغان دولت له لوري وشي.

نوموړي له ازادي راډیو سره په مرکه کې ویلي، طالبان د افغانستان له حکومت سره له مخامخ خبرو او جوړجاړي پرته، خپلو اساسي غوښتنو ته نه شي رسېدای.

داوودزي زیاته کړې: «درې مهمې خبرې دي د طالبانو لپاره چې هغوی یوه یې هم له امریکې سره په خبرو نتیجې ته نه رسېږي، ترڅو چې د افغانستان له حکومت سره نتیجې ته ونه رسېږي چې هغه د امریکایي ځواکونو وتل، د زندانیانو خوشې کېدل او له تور لېسته وتل دي. که پر تور لېست تمرکز وکړو، نو هغه به د افغانستان حکومت د ملگرو ملتونو امنیت شورا ته پېشنهاد کوي، لکه له ښاغلي حکمتیار سره چې د سولې موافقه نهایي شوه. د افغانستان حکومت پېشنهاد وکړ چې هغوی له تور لېسته وایستل شي.»

دا په داسې حال کې ده چې د ملگرو ملتونو امنیت شورا په ۲۰۰۱ ز کال کې د امریکا پر متحدو ایالتونو تر تروریستي بریدونو وروسته، د بندیزونو ځانگړی سیستم جوړ کړ چې له نړیوال تروریزم سره تړلي افراد او شبکې تر بندیزونو لاندې کړي.

پر دې اساس، د امنیت شورا په افغانستان کې پر ځینو وگړو چې له القاعدې او طالبانو سره تړلي گڼل کېدل، بندیزونه ولگول. په دغه نوملړ کې شامل شوي مشکوک وگړي سفر نه شي کولای او پانگه یې کنگل کېږي.

خو په ۲۰۱۱ ز کال کې د ملگرو ملتونو امنیت شورا یو نوی پرېکړه لیک صادر کړ، چې پر اساس یې طالبان له القاعدې شبکې جلا وگڼل شول. هغه مهال په ملگرو ملتونو کې د امریکا سفیرې سوزان رایس په یوه بیان کې ویلي وو، دغه طالبانو ته یو واضح پیغام و چې یوازې هغه کسان په افغانستان کې اینده لري، کوم چې له القاعدې ځان بېلوي، له تشدده لاس اخلي او د افغانستان د اساسي قانون درناوی کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د جنورۍ په اتلسمه په اسلام اباد کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد او د طالبانو د ځینو استازو د کتنې پلان لغوه شو. طالبانو په یوه بیان کې وویل چې دلیل یې د هغوی پر ځینو مشرانو د سفر بندیز و.

له دې سره ټاکل شوې چې سبا به د طالبانو مذاکراتي پلاوی په قطر کې د افغان سولې لپاره د امریکا د حکومت له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سره خبرې وکړي.

د طالبانو یوه مهم غړي د هویت د پټ پاتې کېدو په شرط، د جمعې په ورځ رویټرز ته ویلي چې له خلیلزاد سره به د نورو مسئلو ترڅنگ، پر خپلو ځینو مشرانو د سفر د بندیز د لرې کېدو په اړه خبرې وکړي.


تازه سروې:

# لوړه سلنه افغانان تر ټاکنو مخکې د سولې غوښتونکي دي




په هېواد کې یوه نوې سروې ښیي چې ۹۰ سلنه افغانان تر ټاکنو مخکې د سولې پلویان دي. پوښتل شوو کسانو ویلي چې تر ټاکنو مخکې دې د سولې خبرې یوې پایلې ته ورسول شي او تر هغه وروسته دې ټاکنې وشي. دغه سروې د بیات بنسټ او له ازادو رسنیو د ملاتړ ادارې (نی) ترسره کړې ده.
پوښتل شوو کسانو ویلي چې تر سولې وروسته امنیت تامنېږي او شفافې ټاکنې ترسره کېږي، نو له همدې امله د دې اړتیا ده، چې ټاکنې وځنډول شي او یا سوله تر ټاکنو مخکې تامین شي. تر دې وړاندې ډېرو سیاسیونو او مدني فعالانو هم د دې غوښتنه کړې وه چې تر ټاکنو مخکې دې د سولې خبرې یوې پایلې ته ورسول شي. له همدې امله څه موده وړاندې د ټاکنو د ځنډېدو ګنګوسې هم خپرېدې. خو اوس د دې سروې پایلې دا ښیي چې عام افغانان هم تر ټاکنو مخکې له طالبانو سره د سولې خبرو د یوې پایلې ته د رسېدو پلویان دي.
دغه سروې د یادو بنسټونو له لوري په ۳۴ ولایتونو کې ترسره شوې ده. دوی په دې سروې کې له ۵ زره او ۳۷۹ کسانو پوښتنې کړې دي. له دې ډلې ۴ زره او ۸ سوه کسانو، چې د ټولو شمېرو ۹۰ سلنه برخه جوړوي، د دې پلویتوب کړی چې سوله دې تر ټاکنو مخکې تامین شي. دوی په دې باور دي، چې حکومت باید له طالبانو سره د سولې خبرې یوې پایلې ته ورسوي او تر هغه وروسته دې ټاکنې ترسره کړي. په مقابل کې یې ۴۲۹ کسانو چې د ټولې شمېرې اته سلنه برخه جوړوي، بیا تر سولې مخکې ټاکنې مهمې بللې دي. دوی ویلي چې لومړی دې ټاکنې ترسره شي او تر هغه وروسته دې له طالبانو سره د سولې خبرې یوې پایلې ته ورسول شي.
د دې سروې ځینو ګډونوال او د پخواني حکومت چارواکي وایي، اوسنی حکومت نه د ټاکنو او نه هم د سولې د مدیریت وړتیا لري. په پاکستان کې د افغان حکومت پخواني سفیر عمر زاخېلوال ویلي، اوسنی حکومت نه د ټاکنو په برخه کې د مدیریت وړتیا لري او نه هم د دې وړتیا لري چې د سولې په برخه کې د خلکو هیلې پوره کړي. زاخېلوال ویلي: ((ډېره کمه سلنه خلک په دې باور دي، چې ښایي حکومت دې ښې ټاکنې ترسره کړي. که حکومت د ټاکنو د مدیریت وړتیا لرلی یا خلک په دې باور وای، چې حکومت ټاکنې ترسره کولی شي، نو د سولې پر ځای د ټاکنو پلویان باید ډېر وای. خلک نه د ټاکنو او نه هم د سولې په برخه کې د حکومت د پلانونو ملاتړي دي، ځکه دغه پلانونه او دغه تګلارې چې اوس یې حکومت مخ ته وړي، نواقص او ستونزې لري)).
ځینې شنونکي بیا وایي چې حکومت په اوس وخت کې سولې ته لومړیتوب نه ورکوي. د سیاسي چارو څارونکی وحید مژده وایي، اوس داسې ښکاري چې ولسمشر غني او حکومت د سولې پر ځای ټاکنو ته لومړیتوب ورکوي. مژده وایي: ((ولسمشر غني او اوسنی حکومت اوسمهال سولې ته دومره کار نه کوي. سوله دوی ته لومړیتوب نه ده. دوی غواړي په واک کې پاتې شي، ټاکنې وشي او ولسمشر غني بیا د حکومت واګې واخلي)).
خو اړګ بیا وایي چې سوله ورته لومړیتوب لري، خو ټاکنې به هم پر خپل ټاکلي وخت ترسره کېږي. د ولسمشر د ویاند مرستیال شاه حسین مرتضوي وایي، سوله د افغانستان د خلکو غوښتنه ده، خو د قانون له مخې به ټاکنې هم پر خپل وخت ترسره شي. د ده په خبره، ((سوله د ټولو غوښتنه ده. ټول ولس سوله غواړي، یوازې مافیا او غله د سولې مخالفین دي. خو ټاکنې به هم پر خپل وخت ترسره کېږي)).
حکومت داسې مهال څان ټاکنو او په ټاکنو کې شفافیت ته ژمن بولي، چې تازه یې د ټاکنیزو کمېسیونونو غړي له دندو ګوښه کړي دي. په ورته وخت کې د نوو کسانو پر ګومارنه د کشمکشونو ګنګوسې هم خپرېږي. د تېرو پارلماني ټاکنو پایلې لا په بشپړه توګه نه دي روښانه شوې او پر ټاکنیزو کمېسیونونو د خلکو بې باوري پر خپل ځای ده.

## افغان حکومت یو ځل بیا له پاکستانه ملګرو ملتونو ته شکایت کړی دی



افغان حکومت د دې اونۍ په لړ کې دوه ځله له پاکستانه د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته شکایت کړی دی. په ملګرو ملتونو کې د هېواد دایمي استازي د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې پاکستان تل د افغانستان پر ځمکنۍ بشپړتیا تېری کړی دی او دوی هم له همدې امله د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته شکایت کړی دی.
په خبرپاڼه کې له ملګرو ملتونو غوښتنه شوې، چې په دې برخه کې د افغانستان ستونزو ته رسېده‌ګي وکړي. د خبرپاڼې په یوه برخه کې راغلي چې په دغه شکایت کې هغه موارد ذکر شوي چې پاکستان د افغانستان پر ولایتونو پرله پسې توغندیز بریدونه کړي دي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې افغان حکومت په پاکستان کې د طالب پلاوي او عمران خان ترمنځ پر لیدنه هم ملګرو ملتونو ته اعتراض کړی و، چې بیا هغه ناسته ترسره نه شوه.
هغه مهال د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت الله احمدي ویلي وو، چې پاکستان په دې اړه له دوی سره هېڅ ډول همغږي نه درلوده او هغه د پاکستان دغه اقدام په ښکاره توګه د هېواد له ملي حاکمیت سره په ټکر کې وباله. د نوموړي په خبره، له عمران خان سره د طالب استازو لیدنه د دې ډلې د رسمیت پېژندلو په مانا ده.
تر دې وړاندې هم افغان حکومت روسیې ته د طالب استازو د سفر په اړه د ملګرو ملتونو د بندیزونو کمېټې ته شکایت کړی و.
په ورته وخت کې ولسمشرۍ مانۍ هیله مندي ښودلې چې ملګري ملتونه به په دې برخه کې د افغان حکومت شکایت ته مثبت ځواب ووایي.

## کابلوف: ترکیه په افغان سوله کې مهم رول لوبولی شي




د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي، ترکیه په افغان سوله کې مهم رول لوبولی شي.
نوموړي دغه څرګندونې ترکیې ته د سفر پر مهال، په یاد هېواد کې د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره تر لیدنې وروسته خبریالانو ته کړې دي.
کابلوف زیاته کړې، ترکیه د افغان سولې په مسئله کې مهم رول لوبولی شي؛ نو ځکه دې د قطر په راتلونکې غونډه کې د ګډون فرصت ورکړل شي.
دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې سبا په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ د خبرو پنځم پړاو پیل شي.
د روسیې ځانګړي استازي دغه راز ویلي چې امریکا په یوازې ځان د افغانستان ستونزه نه شي هوارولی، نو د دې اړتیا ده چې ځینې نور اړخونه هم په دغو خبرو کې ښکېل کړي.
هغه ویلي، له سیاسي لارو ممکنه ده چې افغان جګړه ختمه شي، خو د دې اړتیا ده چې د افغان حکومت په ګډون؛ نور اړخونه هم پکې ښکېل کړل شي.
کابلوف دغه څرګندونې په داسې حال کې کوي، چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره په سیمه ییزه او نړیواله کچه هڅې زیاتې شوې دي. د دغو هڅو په لړ کې طالب او امریکایي استازو په خپلو کې او پر خپلو سربېره، د سیمې ځینو هېوادونو ته سفرونه هم کړي دي. خو د امریکایي او طالب استازو ترمنځ پر بیا بیا لیدنو سربېره، افغان حکومت ویلي چې د سولې لپاره روانې هڅې به هغه وخت پایله ورکړي، چې دغه خبرې بین الافغاني شي، خو له دې سره سره هر ځلې طالبانو له افغان حکومت سره د هر ډول خبرو وړاندیز رد کړی دی.

## پاکستاني پوځ: هند دې له پاکستان سره لوبې نه کوي




د پاکستان د پوځ ویاند جنرال اصف غفور په راولپنډۍ کې خبریالانو ته ویلي، چې که د هند له لوري پرې برید وشي، دوی به سخت ځواب ورکړي.
غفور ویلي: «موږ د هند په ګډون له هېچا سره د برخورد غوښتونکي نه یو، خو که پر موږ هر ډول یرغل تحمیل شي، په هره بیه به له خپل وطنه دفاع کوو او له ټولو امکاناتو به چې لرو یې، کار اخلو. موږ اراده، قاطعیت، وسایل او هغه لارې لرو چې هرې حملې ته ځواب ورکړو، موږ هیله لرو چې دا پیغام ور رسېدلی وي چې له پاکستان سره دې لوبې نه کوي.»
د هند او پاکستان ترمنځ کړکېچ وروسته له هغې ډېر شو، چې د فبرورۍ په څوارلسمه د هندي کشمیر په پلواما سیمه کې د هندي ملېشه ځواکونو پر کاروان په ځانمرګي برید کې، ۴۴ هندي ملېشه عسکر ووژل شول او تر ۴۰ زیات ټپیان شول. د دغه برید مسوولیت په پاکستان کې د جیش محمد په نوم وسله والې ډلې واخیست.
د دغه برید په غبرګون کې هندي چارواکو د یاد برید پړه د پاکستان پر استخباراتي ادارې یا ISI)) واچوه. له برید وروسته د دغه هېواد لومړي وزیر نرېندرا مودي خبرداری ورکړی چې د دغه برید غچ به واخلي، خو د پاکستان د پوځ ویاند د هندي چارواکو دغه تور رد کړی او ویلي یې دي چې د کشمیر لانجه یوه سیمه ییزه ستونزه ده او باید د خبرو له لارې حل شي.
تر دې وړاندې د پاکستان صدراعظم عمران خان هم تېره اونۍ په پلواما کې د حملې په اړه ولس ته وینا وکړه او پر هند یې غږ وکړ چې لانجه د خبرو له لارې حل کړي.
خو نوی ډیلي ادعا کوي چې د پاکستان پوځ افراطي له تروریستي ډلو ملاتړ کوي او په خپل هېواد کې یې د روزنې خوندي مرکزونه ورته جوړ کړي، چې له دې لارې په ګاونډیو او نورو هېوادونو کې بریدونه کوي او په دې سره هڅه کوي چې خپلو موخو ته ورسېږي.
په پلواما کې تر برید وروسته، د امریکا حکومت هم پر پاکستان غږ وکړ چې ژر تر ژره د افراطي ډلو په وړاندې زغم او د هغوی ملاتړ بند کړي.
د هند حکومت په ۲۰۰۸ ز کال کې په ممبۍ ښار کې د خونړیو بریدونو پړه هم پر لشکر طیبه ور واچوله، چې مرکزونه یې په پاکستان کې دي.
هغه مهال په ممبۍ کې په بریدونو کې ۱٦٦ تنه ووژل شول او لسګونه نور یې زخمیان کړل.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میراحمد یاد

### پنځم څپرکی
### څنګه نوی فکر وکړو؟




د جنرال الکتریک شرکت شعار دا دی: (برې زمونږ غوره تولید دی!)
نو همدا برې ولې باید ستاسې غوره تولید نه وي؟
(زه له دې هم ښه کار کولای شم!) دا خبره کوډې کوي. که ځان مو وپوښت چې (څنګه ښه کار کولای شم؟)، د نوښت قوه درکې کار پیلوي او د کار کېدو ښې لارې چارې درته خپله ځان ښيي.
دلته درته یو تمرین ښیم، دا درسره مرسته کوي چې ښه کار وکړئ.
هره ورځ کار ته له تلو وړاندې لس دقیقې پر دې فکر وکړئ:
(نننی کار څنګه ښه کولای شم؟) (د کارکوونکو د هڅونې لپاره څه کولای شم؟)
(کارکوونکو ته څه خاص خدمتونه وړاندې کولای شم؟)
(خپله شخصي ګټورتیا څنګه لوړولای شم؟)
دا تمرینونه ډېر ساده او اسانه دي، خو کار کوي. تجربه یې کړئ، لویو بریاو ته د رسېدو لپاره به بې شمېره نوې لارې پرې وموميځ.
زه او مېرمن مې چې له نورو خلکو سره مجلس کوو، زیاتره مو خبرې (کارکوونکو ښځو) ته وځي. مېرمن ایس له واده دوه کاله مخکې کار کاوه او له خپل کار سره یې ډېره مینه درلوده، خو اوس وايي:
(اوس مې دوه بچي ښوونځي ته ځي، د کور کارونه راته پراته دي، کار او دندې ته نه یمه اوزګاره.)
یوه ورځ د یکشنبې په ماسپښین ناڅاپه د ښاغلي ایس کورنۍ موټر ټکر کړ، مېرمن ایس، ښاغلی ایس او بچي یې هم په موټر کې وو. په دې ټکر کې مېرمن او ماشومان سرسري ټپي شول، خو د ښاغلي ایس ملا زور واخیست او ټول عمر په کور شو. دې حالت کې یې د ټولې کورنۍ کفالت یوازې مېرمنې ته ور په غاړه شو.
ویل یې: (دا مې په خیال کې هم نه راتلل چې زه به یوه ورځ د کور کارونه هم کوم او دندې ته به هم ترې وخت باسم، خو له ټکر وروسته مې وپتېیله چې ځان ته به کار پیدا کوم. تاسې باور وکړئ چې زما ګټورتیا سلو ته لوړه شوې ده. ما ولیدل چې پخوا مې ډېر کارونه هسې بې ځایه او بې ګټې کول، بیا مې پام شو چې د ماشومانو هم د کور کار خوښېږي او مرسته راسره کولای شي. د وخت سپمولو لسګونه لارې مې پیدا کړې: لږ بازار ته تلل، لږ ټلویزیون کتل، لږې ټلیفوني خبرې ... لنډه دا چې ما وخت ضایع کوونکې چارې راکمې کړې.)
له دې تجربې ډېره زده کړه کېږي: وړتیا ذهني اخذ (برداشت) دی. موږ چې څومره کار کولای شو د دې کار وړتیا د هغه تصور په وړتیا پورې اړه لري، چې موږ یې د دې کار د کول په اړه لرو. که موږ رښتیا باور ولرو چې ډېر کار کولای شو، نو ذهن مو په داسې نویو لارو چارو پسې ګرځي چې کارونه راته اسانه کړي.
د بانک یو ځوان مدیر، د (کاري ظرفیت) په اړه خپلې تجربې داسې شریکوي: (زمونږ یو مدیر ناڅاپه کار پرېښود، زمونږ څانګې ته وخت لنډ تنګ شو، د دې ځوان کار په بانک کې ډېر مهم و، په دې خاطر یې نه کار ځنډېدی او نه پرېښودل کېدای شوی.
په کومه ورځ چې دا ځوان لاړ، په سبا یې زه د هغه برخې معاون ور وغوښتم، راته ویل یې چې له ما مخکې یې له دوو نورو کسانو سره خبرې کړې او ترې غوښتي یې دي چې د بل کس تر راتلو پورې دې یو څو ورځې د تللي مدیر چارې سره سمبال کړي. معاون راته وویل: رد ځواب یو هم رانه کړ، خو دواړو داسې وښوده چې خپل کارونه پرې سخت ډېر دي، نو ما ویل که ته یو څو ورځې دا پیټی واخلې؟
ما د خپل کار په عمر کې دا زده کړې چې کاري فرصت به هېڅکله نه پرېږدې، نو خبره مې ومنله او ژمنه مې وکړه چې تر خپله وسه به د هغه کس د ټولو کارونو هڅه کوم او خپل کارونه به هم نه پرېږدم، د څانګې معاون زما په دې خبره ډېر خوشاله شو.
زه پوهېدم چې لوی مسئولیت مې اخیستی دی، له دفتره راووتم. زما کارونه هم د هغو دوو تنو په څېر ډېر وو، خو ما ویل زه به داسې لاره پیدا کوم چې دواړه کاره به ښه سم کوم. په هغه مازدیګر چې له دفتر نه رخصت شوم، کېناستم او فکر مې وکړ چې خپله کاري وړتیا څنګه زیاتولای شم، یو قلم مې را واخیست او څه لارې چې فکر ته راتلې، ټولې مې له ځان سره ولیکلې.
جالبه دا ده چې ډېرې ښې لارې راغلې... ځینې دا وې چې: سکرتر مې کورنې زنګونه ټول یوه وخت او بهرنې بل وخت ته برابر کړي، ورځنۍ ناستې مې له پنځلسو دقیقو لسو ته راکمې کړم، لیکونه مې ټول یوه ټاکلي وخت ته راټول کړم. په دې هم پوه شوم چې سکرتر مې کولای شي او غواړي چې زما ځینې واړه او وخت ضایع کوونکي کارونه په خپله راسره وکړي. ٤
په اوسني کار کې مې دا دویم کال پوره کېږي، خو اوس پوه شوم چې هسې غفلت رانه څومره وخت او ګټه ضایع کول.
په یوه اونۍ کې مې تر پخوا دوه چنده ډېر لیکونه ولیکل، تر پخوا مې پنځوس سلنه ډېر ټلیفوني کارونه وکړل، په همدومره ډېرو ناستو کې مې برخه واخیسته او هېڅ ډول فشار مې هم احساس نه کړ. څو اونۍ وروسته معاون صیب ور وغوښتم، زما ستاینه یې وکړه چې کارونه مې سم روان کړي دي، بیا یې راته وویل چې په بانک کې دننه او بهر یې ځینې خلک ولیدل، خو دې بست ته مناسب کس یې پیدا نه کړ، بیا یې وویل چې د بانک مدیره هئیت یې په جریان کې کړی او ترې غوښتي یې دي چې دا دواړه بستونه سره مدغم کړي، مسئولیت یې ماته راکړي او معاش مې هم ډېر لوړ کړي.

**دوام لري...**

# میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




په کندهار کې د دولتي پوهنتون ترڅنګ، خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې هم د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي، چې ډېر کسان پکې پر زده کړو بوخت دي. له دې ډلې یوه هم (میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه) ده. د کندهار ځوان نسل او یوه دولتي پوهنتون ته په کتو چې په دغه ولایت کې فعال دي، اړتیا لیدل کېږي چې خصوصي سکټور هم په دې برخه کې پانګونه وکړي او د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې ځینې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې رامنځته شي، څو هغه کسان چې دولتي پوهنتون ته د ورتلو چانس نه لري، وکولی شي خپلې لوړې زده کړې په خوصوصي پوهنتونونو کې هم تر سره کړي.
په کندهار کې د میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې د بنسټ ډبره د ۱۳۹۰ لمریز کال د جدی په ۲۸مه کېښودل شوه. د دې موسسې استاد او د خصوصي پوهنتونونو په اتحادیه کې د دې موسسې استازی شفیق مشفق وایي، دې موسسې په لومړي سر کې د دوو پوهنځیو (معالجوي طب او حقوق او سیاسي علومو) په درلودو سره پر فعالیت پیل کړی دی.
مشفق وایي، میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال درې پوهنځي (معالجوي طب، اقتصاد او حقوق او سیاسي علوم) لري، چې هر یو یې بیا بېلابېل ډیپارټمنټونه لري. د نوموړي په خبره، معالجوي طب پنځه، اقتصاد پوهنځی یو او حقوق او سیاسي علومو پوهنځی بیا دوه ډیپارټمنټونه لري، چې په هره څانګه کې یې ډېر محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي.
د خصوصي پوهنتونونو په اتحادیه کې میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې استازی وایي، اوسمهال د دې موسسې په دریو واړو پوهنځیو کې لږ تر لږه ٦ زره محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې په دې ډله کې ۳۱۷ یې ښځینه او پاتې یې نارینه دي. ښاغلی مشفق وایي، تر اوسه پورې یې ٤۸۷ کسان د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي، چې له دې ډلې ۸۷ تنه له معالجوي طب، سل تنه له اقتصاد پوهنځي او ۳۰۰ تنه له حقوقو او سیاسي علومو څخه په اوو دورو کې فارغ شوي دي.
د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د تدریس چارې د لږ تر لږه ۱۸۱ ستادانو له خوا پر مخ وړل کېږي. د دې موسسې استاد شفیق مشفق وایي، د استادانو په ډله کې تر اوسه پورې دوکتور استاد نه لري، خو ځینو یې د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې کړې دي. دی وایي، اوس یې هم ځینې استادان په کور دننه او بهر کې د ماسټرۍ په پروګرام کې شامل دي، چې د ماسټرۍ تر اخیستو وروسته به ډېر ژر خپلو دندو ته را وګرځي. نوموړی وایي، په ټوله کې دغه موسسه د استادانو په ګډون ۹٦ تنه کاري پرسونل لري.
د خصوصي پوهنتونونو په اتحادیه کې میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې استازی وایي، دوی په کور دننه او بهر کې له ځینو پوهنتونونو او کادري روغتونونو سره علمي اړیکه لري. مشفق وایي، کندهار پوهنتون، هلمند پوهنتون او په دغو ولایتونو کې له خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې او د تجربو تبادله لري. دغه راز په هند کې هم د کوېسټ او الجي پوهنتونونو او سروېدا کادري روغتون سره علمي اړیکې لري، چې له مخې یې همدا اوس ځینې استادان په کوېسټ پوهنتون کې پر ماسټرۍ او له طب پوهنځي څخه ۱٦ فارغ شوي محصلین یې په سروېدا روغتون کې د سي تاج پر دوره بوخت دي. دی وایي، له دغو پوهنتونونو سره یې پر یوه پروګرام کار پیل کړی، چې له مخې به یې په کندهار کې د میرویس نیکه د لوړو زده کړو په موسسه کې د ماسټرۍ پروګرام پیل شي او استادان به یې هم تر ډېره د هند هېواد اوسېدونکي وي. د ښاغلي مشفق په خبره، په دې اړه یې لومړني کارونه پای ته رسېدلي او د لوړو زده کړو وزارت تر منظورۍ وروسته به یې عملاً چارې هم پیل شي.
میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره لوی کتابتون لري، چې کولی شي وخت ناوخته پکې مطالعه او څېړنه وکړي او خپلې ستونزې حل کړي. مشفق وایي، په کتابتون کې یې نږدې ۱۱۰۰۰ ټوکه بېلابېل کتابونه موجود دي، چې د مطالعې لپاره یې لوی او ارام چاپېریال هم برابر کړی دی. د ښاغلي مشفق په خبره، د کتابتون ترڅنګ یې د محصلینو او استادانو لپاره مجهز کمپیوټر لب هم برابر کړی چې پر قوي انټرنېټ سمبال دی. دی وایي، په ټوله کې د میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې چاپېریال د محصلینو لپاره داسې برابر شوی، چې وکولی شي په یوه ارامه فضا کې زده کړې او مطالعه وکړي. د نوموړي په خبره، موسسې یې د محصلینو لپاره بېلابېل تخفیفونه په پام کې نیولي، چې په دې برخه کې د اطلاعاتو او کلتور ریاست، ښځو چارو ریاست، پوهنې ریاست او ځینو نورو ریاستونو سره هوکړه لیکونه لري، چې د هغوی لخوا ورته په شرایطو برابر کسان معرفي کېږي او ان ۵۰ سلنه تخفیف ورکوي. دغه راز هغه کسان چې بې وزله وي او نه شي کولی په میاشتني ډول د خپلو زده کړو فیس پرې کړي، دوی ورته مناسب تخفیف ورکوي، چې دغه ډول لسګونه کسان همدا اوس د دې موسسې په درې ګونو پوهنځیو کې پر زده کړو بوخت دي.
شفیق مشفق وایي، په ټوله کې هغه خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې چې له لوړو زده کړو وزارت سره ثبت او راجستر دي، اسناد یې د دولتي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو د اسنادونو په څېر د اعتبار وړ دي. دی وایي، کله چې محصل فارغېږي، دوی ورته یوه تصدیق پاڼه او د نومرو ترانسکرپ ورکوي، چې د لوړو زده کړو وزارت تر مهار او لاسلیک وروسته، محصل کولی شي له همدغو اسنادونو څخه د دندې پیدا کولو او نورو برخو کې ګټه واخلي. دی وایي، ډېری فارغ شوي محصلین یې په کندهار او د هېواد په نورو ولایتونو کې په دولتي او خصوصي ادارو کې پر لوړو بستونو کار کوي.
میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې اداره، د دې موسسې د لا پرمختګ لپاره ډېر پلانونه لري، چې له دې ډلې یو هم په دې موسسه کې د ماسټرۍ پروګرام پیلول دي. د ښاغلي مشفق خبره، پر هند سربېره چې دوی غواړي هلته له یوه پوهنتون سره تر هوکړې وروسته په کندهار کې د هندي استادانو او هندي پوهنتون پر مټ د ماسټرۍ پروګرام پیل کړي، دغه راز یې اوس تازه په ترکیه کې هم د یوه پوهنتون له اداري سره خبرې پیل کړې دي، څو وکولی شي د دغه ترکي پوهنتون او استادانو په مرسته په کندهار کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړي، په ځانګړي ډول د کندهار او هلمند او په ټوله کې د افغان ځوانانو لپاره د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي.
په کندهار کې د میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې مسوولین وایي، غواړي په راتلونکي کې خپلې څانګې نورو ولایتونو ته هم وغځوي. دا چې اوس د لوړو زده کړو وزارت په ټوله کې، پوهنتون ته د موسسې د ارتقا، ماسټرۍ پروګرام د پیل او یا د نویو پوهنځیو او موسسو د ایجاد چارې ځنډولې دي، نو د دې موسسې اداره وایي چې دغه کار د دوی د پرمختګ په مخ کې خنډ ګرځېدلی دی. د دې موسسې مسوولین وایي، که دغو چارو ته بېرته د لوړو زده کړو وزارت لخوا اجازه ورکړل شي، لومړی ګام به یې د ښوونې او روزنې پوهنځي ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقا کول او د ماسټرۍ پروګرام پیلول وي.
د دې موسسې د اداري په خبره، لومړنۍ ستونزه یې د لوړو زده کړو وزارت لخوا د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو فارغ شویو محصلینو ته د ډیپلومونو نه ورکول دي، چې په دې برخه کې وخت ناوخت دوی د محصلینو له شکایت سره مخ کېږي. د خصوصي پوهنتونونو په اتحادیه کې د میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې استازی وایي، لوړو زده کړو وزارت په دې برخه کې د مور او میرې چلند کوي، په دې مانا چې د ځینو خصوصي پوهنتونونو فارغینو ته ډیپلوم یا تحصیلي اسناد ورکوي او ځینو ته یې نه ورکوي.
د ښاغلي مشفق په خبره، چې په کندهار ولایت کې د ښوونځیو ډېری استادان غیر مسلکي دي، نو که لوړو زده کړو وزارت په دغه ولایت کې په خصوصي پوهنتونونو کې د ښوونې او روزنې پوهنځي ته د فعالیت اجازه ورکړي، ډېره به ښه وي. څو دوی وکولی شي په کارپوه او مسلکي ښوونکي د کندهار ولایت ښوونځیو او په ټوله کې ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.
دی وایي، په ځلونو یې لوړو زده کړو وزارت ته د ښوونې او روزنې، کمپیوټر ساینس او انجینري پوهنځي د منظورۍ غوښتنلیکونه سپارلي، خو تر اوسه پورې پرې چا غور هم نه دی ګرولی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٦۰ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ٥۳٤ |
| ₹ | ۱۰٥٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٦,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - جده | 17:30 |
| کابل - کندهار | 17:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# علائم دیابت در زنان؛ خطرات و راه‌های درمان آن

دیابت مجموعه‌ای از بیماری‌های مرتبط با سوخت‌وساز بدن است که به‌واسطه عدم پردازش صحیح یا تولید انسولین، قند بالایی در بدن تولید می‌شود. احتمال ابتلا به دیابت برای همه گروه‌های سنی، نژادها و سنین وجود دارد. افراد با سبک زندگی مختلف هم به این بیماری دچار می‌شوند. در سال‌های ۱۹۷۱ تا ۲۰۰۰ میلادی، نرخ مرگ‌ومیر مردان مبتلا به دیابت کاهش پیدا کرد. این آمار نشان از رشد روش‌های درمانی دیابت برای مردان دارد. اما آمار درمان و بهبود زنان نتیجه‌ای مشابه را نشان نمی‌دهد و حتی میزان مرگ‌ومیر ناشی از ابتلا به دیابت در زنان بیش از دو برابر قبل شده است. در ادامه، از علائم دیابت در زنان و موضوعات مرتبط با این بیماری بیشتر خواهید خواند.

**آمار ابتلا به دیابت در زنان**

نرخ مرگ‌ومیر ناشی از دیابت در زنان بیش از مردان است، اما آمارها نشان می‌دهد که افزایش ابتلا به دیابت نوع دوم در مردان بیشتر از زنان شده است. تحقیقات انجام‌شده حاکی از تفاوت اثرات دیابت روی مردان و زنان است. نتایج این پژوهش‌ها به قرار زیر است:

زنان اغلب درمان‌های تهاجمی کم تری برای مشکلات قلبی-عروقی و دیابت دریافت می کنند.

تشخیص بعضی عوارض و خطرات دیابت در زنان دشوارتر از مردان است.

بیماری های قلبی زنان در اغلب موارد با بیماری‌های قلبی مردان متفاوت است.

عملکرد هورمون‌ها و التهاب در بدن زنان با بدن مردان متفاوت است.

بناءً به آمار سال ۲۰۱۵ در آمریکا، حدود ۱۱,۷ میلیون نفر از زنان و ۱۱,۳ میلیون نفر از مردان به دیابت مبتلا هستند. آمارهای جهانی سازمان صحی جهانی در سال ۲۰۱۴ هم نشان می‌دهد که تعداد مبتلایان به دیابت در جهان در سال ۱۹۸۰، ۱۰۸ میلیون نفر بوده و در سال ۲۰۱۴ به ۴۲۲ میلیون نفر رسیده است.

**علائم دیابت در زنان**

بسیاری از علائم دیابت در زنان، مشابه نشانه‌های این بیماری در مردان است. با وجود این، علائمی هم وجود دارد که فقط در زنان دیده می‌شود. شناخت بهتر این علائم به شناسایی بیماری و درمان سریع‌تر آن می‌انجامد. نشانه‌های دیابت که منحصراً در زنان دیده می‌شود، به شرح زیر است:

**۱. عفونت قارچی واژن و دهان**

رشد بیش از اندازه قارچ می‌تواند باعث بروز عفونت در دهان و واژن شود. چنین عفونت‌هایی در زنان رایج است. علائم عفونت قارچی واژن شامل موارد زیر است:

خارش؛

درد؛

ترشح واژینال؛

درد در هنگام آمیزش جنسی.

عفونت قارچی در دهان همراه با ایجاد لایه‌ای سفید روی زبان و پوشش داخلی دهان است. سطح بالای قند خون باعث رشد قارچ‌ها می‌شود.

**۲. عفونت ادراری**

خطر ابتلا به عفونت مجاری ادراری در زنان مبتلا به دیابت بیشتر از مردان است. این عفونت با ورود میکروب‌ها به مجاری ادرار رخ می‌دهد و باعث مشکلات زیر می‌شود:

خروج ادرار با درد؛

احساس سوزش؛

وجود خون یا پروتین و کریستال بیش از حد در ادرار که به آن حالت فوم می‌دهد.

اگر علائم عفونت ادراری درمان و پیگیری نشود، امکان عفونت کلیه هم وجود خواهد داشت. عفونت ادراری در زنان مبتلا به دیابت بیشتر به خاطر ضعیف شدن سیستم ایمنی رخ می‌دهد. سیستم ایمنی بدن هم به علت هیپرگلیسمی ضعیف می‌شود.

**۳. اختلال در عملکرد و توانایی جنسی**

گلوکوز بالای موجود در بدن می‌تواند منجر به تخریب فیبرهای عصبی شود و نتیجه آن نوروپاتی دیابتی است. بیماران مبتلا به این مشکل دچار فقدان حس در نقاط مختلف بدن یا مورمور شدن اعضای بدن خواهند بود. این مشکلات در نواحی مختلف بدن مثل دست، پا و ران به وقوع می‌پیوندد. ضمن اینکه امکان وقوع بی‌حسی در واژن هم وجود دارد. چنین مشکلی بر توانایی جنسی زن اثر می گذارد و ضمن کاهش میل جنسی، واژن را هم در حالت بی‌حسی قرار می‌دهد.

**۴. سندرم تخمدان**

زمانی که در بدن یک زن، هورمون‌های مردانه بیش از حد لازم ترشح شوند، سندرم تخمدان پلی‌کیستیک به وجود می‌آید. علائم این سندرم به شرح زیر است:

قاعدگی نامنظم؛

افزایش وزن؛

افسردگی؛

ناباروری.

احتمال دارد سندرم تخمدان پلی کیستیک باعث وقوع مقاومت انسولینی هم شود و با بالا بردن سطح قند خون بدن، مقدمات ابتلا به دیابت را فراهم کند.

**علائم مشترک دیابت در زنان و مردان**

علائم مشترک ابتلا به دیابت در زنان و مردان در مواردی که هنوز بیماری تشخیص داده نشده، به شرح زیر است:

افزایش حس گرسنگی و تشنگی؛

تکرر ادرار؛

کاهش یا افزایش وزن بی‌دلیل؛

خستگی؛

تاری دید؛

دیر خوب شدن زخم‌های بدن؛

عفونت پوستی؛

تیره شدن پوست بخش‌هایی از بدن که دارای چین و شکن هستند، مانند زیر بغل؛

زودرنجی و کج‌خلقی؛

آغشته شدن نفس به رایحه‌هایی شیرین، میوه‌ای یا شبیه آستون؛

بی‌حسی دست و پا.

یادتان باشد که بسیاری از افراد مبتلا به دیابت نوع دوم، هیچگونه علامت خاصی ندارند.

**بارداری و ابتلا به دیابت نوع ۱ و ۲**

بسیاری از زنان باردار مبتلا به دیابت درباره سلامت کودک خود نگران هستند. خبر خوب این است که با وجود ابتلا به دیابت نوع ۱ و دیابت نوع ۲ هم می‌توان این دوران را بدون مشکل پشت سر گذاشت. البته برای دوری از عوارض و خطرات این بیماری در دوران بارداری نیاز باید اقداماتی انجام داد. باید قبل از بارداری، سطح گلوکوز خون را به سطح مطلوب برسانید. سطح گلوکوز خون در دوران بارداری با مواقع دیگر متفاوت است.

اگر باردار هستید یا تصمیم به بارداری گرفته‌اید، باید حتماً با داکتر درباره راهکارهای حفظ سلامت خود و نوزاد صحبت کنید. برای مثال، وضعیت سلامت عمومی و سطح قند خون باید قبل از بارداری و در طول این دوران مرتب اندازه‌گیری شود. وقتی باردار هستید، قند خون و کتون از طریق جفت به بدن جنین منتقل می‌شود. نوزادان هم مانند شما برای تأمین انرژی بدن خود به گلوکوز نیاز دارند. اما اگر سطح قند خون یا همان گلوکوز بدن‌تان در بارداری بیش از حد باشد، امکان نقص عضو نوزاد وجود خواهد داشت. بالا بودن بیش از اندازه سطح گلوکز بدن مادر باعث مشکلاتی به شرح زیر در نوزادان می‌شود:

نواقص شناختی؛

تأخیر در رشد؛

فشار خون بالا.

**دیابت بارداری**

دیابت بارداری فقط در زنان باردار به وجود می‌آید و با نوع یک و دو متفاوت است. حدود ۹.۲ درصد از زنان باردار به این مشکل مبتلا می‌شوند. زمانی که هورمون‌های بارداری در عملکرد انسولین بدن دخالت کنند، دیابت بارداری به وقوع می‌پیوندد و مقدار انسولین بیشتری در بدن ترشح می‌شود. البته در بعضی از زنان هم میزان ترشح انسولین کافی نیست، اما دیابت بارداری رخ می‌دهد. دیابت بارداری معمولاً در اواخر دوران بارداری رخ می‌دهد و در بیشتر زنان بعد از اتمام این دوره، از بین می‌رود. اگر دیابت بارداری داشته‌اید، بیشتر از دیگران در معرض ابتلا به دیابت نوع دوم هستید. به همین خاطر، بهتر است هر چند سال یکبار، آزمایش دیابت یا پیش‌دیابت بدهید.

**عوامل خطرناک برای ابتلا به دیابت در زنان**

زنان با شرایط زیر بیشتر در خطر ابتلا به دیابت نوع دوم هستند:

زنان بالای ۴۵ سال؛

زنان چاق و دارای اضافه وزن؛

زنانی که در خانواده (والدین یا خواهر و برادرها) سابقه ابتلا به دیابت وجود دارد؛

زنانی که نوزادانی با وزنی بالای چهار کیلوگرم به دنیا آورده‌اند؛

زنانی که به دیابت بارداری مبتلا بوده‌اند؛

زنانی که فشار خون بالا دارند؛

زنانی که کلسترول بالا دارند؛

زنانی که کمتر از سه روز در هفته ورزش می‌کنند؛

زنانی که مشکلات مرتبط با استفاده از انسولین دارند (مثلاً مبتلایان به سندرم تخمدان‌پلی کیستیک)؛

زنانی که سابقه سکته قلبی یا مغزی دارند.

**درمان دیابت در زنان**

در مراحل مختلف زندگی، بدن زنان موانعی برای مدیریت دیابت و قند خون به وجود می‌آورد. در این حین، امکان وقوع چالش‌هایی وجود دارد:

مصرف بعضی از قرص‌های بارداری باعث افزایش گلوکوز می‌شود. برای رفع این مشکل باید از داکتر بخواهید تا برای‌تان دوای ضدبارداری مناسب‌تری با دوز کمتر تجویز کند؛

گلوکوز موجود در بدن می‌تواند باعث عفونت قارچی شود. گلوکوز، سرعت رشد قارچ‌ها را افزایش می‌دهد. برای درمان عفونت‌های قارچی، داروهای با/بدون نسخه‌ای در دواخانه‌ها عرضه می‌شود. با کنترل سطح قند خون خود می‌توانید مانع از بروز عفونت‌های قارچی شوید.

مصرف مقدار مناسب انسولین مطابق دستور داکتر، ورزش مرتب، کاهش مصرف کاربوهایدریت، کنترل سطح گلوکوز خون و مصرف غذاهایی با گلیسیمیک (شاخصی عددی برای نشان دادن اثر هر غذا بر سطح قند خون) باعث کنترل دیابت می‌شود.

برای جلوگیری یا به تأخیر انداختن دیابت، پرهیز از دچار شدن به علائم و خطرات و مدیریت علائم دیابت می‌توانید اقدامات و روش‌های زیر را در نظر بگیرید:

**مصرف داروها**

برای مدیریت علائم و خطرات ناشی از دیابت می‌توان از داروهایی استفاده کرد. دسته‌بندی‌های مختلفی برای داروهای دیابتی وجود دارد. متداول‌ترین آنها شامل موارد زیر است:

انسولین‌درمانی برای بیماران مبتلا به دیابت نوع یک؛

مصرف داروی متفورمین که قند خون را پایین می‌آورد.

## د سولې عالي شورا: د جنګ دوام به د جګړې خوښوونکو تر لمنو هم ورسېږي

د سولې عالي شورا وېلي، د سیمې او نړۍ هېوادونه دې په افغانستان کې روانه جګړه په خپله ګټه نه ګڼي، ځکه که په دغه هېواد کې جګړه دوام پیدا کړي، د دوی تر لمنې به هم ورسېږي.

دا په داسې حال کې ده چې تازه د پاکستان د پوځ د عامه اړیکو وياند جنرال اصف غفور ویلي، که هند پر پاکستان یرغل وکړ، پایلې به یې په افغانستان کې د سولې لپاره روانې هڅې اغېزمنې کړي.

غفور ویلي: «که په سیمه کې ترهګري له منځه وړل وي، نو د هغه لپاره دا ډېره ضروري ده چې په افغانستان کې د سولې لپاره روانې هڅې بریالۍ شي، خو که د هند له خوا پر پاکستان یرغل وتپل شو، نو بیا زموږ لومړیتوب د خپلې خاورې دفاع کول وي او نور څه بیا وروسته راځي».

خو د سولې عالي شورا د پاکستاني چارواکو د دغو څرګندونو په غبرګون کې ویلي، د سیمې او نړۍ هېوادونه دې په افغانستان کې جګړه په خپله ګټه نه ګڼي، ځکه که په دغه هېواد کې جګړه دوام پیدا کړي، د دوی تر لمنې به هم ورسېږي.

د دې شورا وياند سيد احسان طاهري ویلي: «زه د افغانستان د سولې د عالي شورا د وياند په توګه د سیمې او نړۍ له هېوادونو په ځانګړې ډول، له ګاونډيو هېوادونو یوه غوښتنه لرم چې دا د سولې عالي شورا رسمي موقف څرګندوي، په افغانستان کې جګړه په خپله ګټه ونه ګڼئ، ځکه که دا جګړه دوام پیدا کړي، د دوی لمن به هم ونیسي او ارام به پاتې نه شي، خو هر هېواد کولای شي چې د افغانستان سوله په خپله ګټه وګڼي.» طاهري ویلي، د افغان سولې په اړه سیمه ییزه او نړیواله اجماع موجوده ده او دغو هېوادونو ژمنه کړې چې له نورو هېوادونو سره به خپلې سیاسي ستونزې د افغان سولې په موضوع پورې نه تړي او د افغانانو په مشرۍ به له دې پروسې ملاتړ کوي. د یادونې ده چې تر دې وړاندې په افغانستان کې د پاکستان سفیر، ذاهد نصرالله د تېرې سې شنبې په ورځ په کابل کې یوې خبرې غونډې ته ویلي وو، چې د پاکستان په وړاندې د هند له تاوتریخوالي سره مل هر اقدام به د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې خبرې اترې زیانمنې کړي.

بلخوا د ولسمشرۍ ماڼۍ وياند هارون چخانسوري هم په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي وو، چې پاکستاني چارواکي باید د بې بنسټه څرګندونو پر ځای په هغه هېواد کې د ترهګرو د له منځه وړلو په برخه کې عملي اقدام وکړي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








یکشنبه د ۱۳۹۷ د کب پنځمه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲٤مه | دویم کال | ۳۳۹مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٥ | ١٤ | ١٦ | ١٤ | ١٩ | ١٦ |
| -٩ | ٠ | ٢ | ٢ | ٤ | ١ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۲ | لمر ختل ۰٦:٤٤ | ماسپښین ۱۲:۲٤ | مازیگر ۰٤:۲٤ | ماښام ۰٦:۰۳ | ماخوستن ۰۷:۲٦

## نړۍ



# پاکستاني پوځ: هند دې له پاکستان سره لوبې نه کوي

۳

## امریکا: په سوریه کې خپل ځلور سوه پوځیان پرېږدو



د امریکا متحده ایالتونو ویلي، چې له سوریې خپل ټول پوځیان نه وباسي، بلکې هلته به څلور سوه سرتېري له تروریستي ډلو سره د مبارزې لپاره پرېږدي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې پنجشنبې په ورځ د سپینې ماڼۍ ویاندې سارا سنډرز ویلي وو، چې د سوله ساتو ځواکونو دوه سوه کسیزه ډله به په سوریه کې د یوې مودې په مخه دېره پاتې شي.

د سپینې ماڼۍ یوه چارواکي د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې دا شمېره بدله شوې او څلور سوه امریکایي سرتېرې به د سوریې په شمال ختیځ کې پاتې شي. یاد چارواکي د ذکر شوې شمېرې د کمېدو سبب نه دی ښودلی.

بلخوا د کردانو په مشرۍ په سوریه کې ډیموکراټیکو ځواکونو د امریکا د دې پرېکړې هرکلی کړی او ویلي یې دي چې دغه پرېکړه به له دوی سره مرسته وکړي، څو هلته د مېشتو تروریستي ډلو پر ضد خپلې هڅې نورې هم ګړندۍ کړي.

دې ډلې ویلي چې د واشنګټن دا هڅه ښايي د امریکا په مشرۍ د ائتلاف نور غړي هم وهڅوي، څو په سوریه کې خپل پوځیان وساتي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېر زېږدیز کال په ډسمبر کې ولسمشر ټرمپ اعلان وکړ چې په سوریه کې یې داعش ډله ځپلې او خپل ټول سرتېري به بېرته خپل هېواد ته راستانه کړي.

## چارواکي: په هند کې د ناقانونه شرابو د څښلو له کبله ۹۳ تنه مړه شوي دي



هندي چارواکو ویلي، د ناقانونه الکولو د څښلو له کبله په دغه هېواد کې لږترلږه ۹۳ تنه مړه شوي او شاوخوا دوه سوه نور د ناوړه وضعیت له کبله روغتونونو ته انتقال شوي دي.

چارواکو ویلي، دغه پېښه تېره ورځ د هند په شمال ختیځ کې د اسام په ایالت کې شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې دوې اونۍ وړاندې هم د دغه هېواد په شمال کې د زهرجنو الکولو د څښلو له کبله تر سلو زیات کسان مړه شوي وو.

د اسام ایالت د روغتیا وزیر همانتا بیسوا رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې هره دقیقه له بېلابېلو سیمو د مړینې راپورونه ور رسېدلي دي او تر اوسه د هغه په خبره، دوه سوه کسان په روغتونونو کې بستر دي.

بیسوا د ډېرو هغو کسانو چې روغتون ته انتقال شوي، صحي وضعیت خراب بللی دی.

د یادونې ده چې په هند کې تر دې وړاندې هم ورته پېښې شوې چې سلګونو کسانو ته یکې مرگ ژوبله اوښتې ده.

تر دغو پېښو وړاندې په ۲۰۱۱ ز کال کې د دغه هېواد په بنگال ایالت کې د زهرجنو الکولو د څښلو له کبله هم ۱۷۲ تنه مړه شوي وو.

## ارگ: اعضای تازۀ کمیسیون‌های انتخاباتی هفتۀ آینده معرفی خواهند شد



ارگ می‌گوید که قرار است روند گزینش اعضای تازۀ کمیسیون‌های انتخاباتی تا یک هفتۀ دیگر به پایان برسد و در آغاز هفتۀ آینده، کمیشنران تازه به کارشان آغاز کنند.

هارون چخانسوری، سخن‌گوی رئیس‌جمهور پس از چاشت دیروز در یک نشست خبری در کابل، گفت که تاکنون ۸۴ تن برای عضویت در کمیسیون‌های انتخاباتی درخواست داده‌اند.

از این میان، ٦۹ تن به شمول نُه بانو از سوی احزاب سیاسی و ۱۵تن (۵ بانو) از سوی نهادهای مرتبط به انتخابات معرفی شده‌اند.

به گفتۀ چخانسوری، قرار است در جریان دو روز آینده، روند بررسی سندهای نامزدان عضویت در کمیسیون‌های انتخاباتی بررسی شوند و سپس در یک انتخابات که در آن نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری حق رأی دارند، ۱۴ تن آنان همچون اعضای تازۀ کمیسیون‌های انتخاباتی گزینش شوند.

دوهفته پیش، پس از آن‌که قانون انتخابات تعدیل شد، رئیس‌جمهور روئسا و اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی را برکنار و به لوی خارنوالی معرفی کرد. اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی متهم به فساد مالی و سوء استفاده از صلاحیت‌شان استند.


انتخابات ریاست‌جمهوری، قرار است در ۲۹ ماه سرطان سال آینده برگزار شود. ریاست‌جمهوری می‌گوید که با تغییر اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی، تقویم برگزاری این انتخابات تغییر نخواهد کرد و انتخابات در زمان معیین آن برگزار خواهد شد.

سخن‌گوی رئیس‌جمهور، در بخش دیگر از سخنانش در بارۀ چگونگی گفت‌وگوهای صلح و برگزاری جرگۀ مشورتی صلح نیز سخن زد.

او گفت در این جرگه که قرار است در آخر ماه حوت برگزار شود، در حدود چهار هزار نماینده از سراسر افغانستان شرکت و برای سه روز دربارۀ صلح رآی‌زنی خواهند کرد.

## ژوند

## سهارنۍ د زده کوونکو لپاره څومره اړینه ده؟



د زده کړو پر مهال تغذیه له دوو اړخونو ډېره مهمه ده، لومړی دا چې په ځوانۍ او یا نوې ځوانۍ کې د انسان بدن ورځ تر بلې وده کوي او د سالمې ودې لپاره انرژۍ ته اړتیا لري او دویم دا چې درس ویل خپله ځانګړې انرژۍ غواړي چې باید پوره پاملرنه ورته وشي.

په دې مرحله کې نه یوازې دا چې د ماشوم یا نوي ځوان بدني وده مهمه ده، بلکې دوی باید یوه قوي حافظه ولري چې د لرلو لپاره یې مغذي مواد و ته اړتیا لیدل کېږي. مېندې او پلرونه باید د خپلو ماشومانو سهارنۍ ته پوره پام وکړي. په ټوله کې هېڅ غذایي وخت د سهارنۍ ځای نه شي نیولی، خو د ماشومانو لپاره بیا تر بل هر وخت ارزښتناک دی؛ ځکه درس ویل یا فکري کار تر فزیکي کار ډېرې انرژۍ ته اړتیا لري. که سهارنۍ سمه وخوړل شي، د ورځې په اوږدو کې په وینه کې د قندو د کنټرول لامل کېږي او دا د زده کوونکو د حافظې له پیاوړتیا سره مرسته کوي. دغه راز پر مېندو او پلرونو دا هم لازمه ده چې په ښوونځي کې د خپلو ماشومانو د تفریح پر مهال هم د یو څه خوراکي توکو غم وکړي. ډوډۍ او پنیر، مېوه او یا نور مغذي مواد یې ښې بېلګې کېدای شي.

## یوازې پیسې خوښي نه شي درکولی

تاسو که هرڅومره پیسې ولرئ او هرڅومره پېر او پلور وکړئ، بیا به هم دا څیزونه د نېکمرغۍ د احساس لپاره بسنه ونه کړي. مادیات هېڅکله د چا د نېکمرغۍ لپاره کافي نه دي.

سمه ده چې پیسې د ژوندانه اړتیا ده او لاس مو پرې سپکېږي، خو واقعیت دا دی چې په ژوند کې ډېرې اغېزمنې چارې شته چې د پیسو په وسیله نه شي ترلاسه کېدای. رښتیني شتمن هغه کسان نه دي چې په خپل بانکي حساب کې ډېرې پیسې لري.

د ژوند رښتیني شتمني له ښو ملګرو او ښې کورنۍ پرته بل څه نه دي. په ژوند کې کوچني څیزونه شته چې موږ خوشالوي او د نېکمرغه اوسېدو احساس را ښيي. د دې لپاره چې د هوساینې او سوکالۍ احساس وکړئ، خپل ذهن د مادیاتو له هیلې تش کړئ. ډېر څیزونه چې فکر کوئ اړتیا ورته لرئ، اصلاً ستاسو لپاره اړین نه وي، یوازې ستاسو غوښتنې دي او نښتون یې ستاسو لپاره کومه ستونزه نه را ولاړوي. هر څومره چې ستاسو مادي غوښتنې او هیلې را کمې شي، په هماغه اندازه مو خوښي ډېرېږي.

